آریانا افغانستان آنلاین
ملي، سیاسي او ادبي ویب پاڼه
http://www.arianafghanistan.com

پوهاند محمد بشیر دودیال

۲۰۲۱/۱۰/۱۶

## FAO

# د کرنې او غذايي توکو نړیوال سازمان

د اکتوبر شپاړسمه چې د تلې د میشاتی ۲۴مي سره برابره ده، د خوراک دنړیوالي ورځې په توګه د کرنې او غذايي توکو نړیوال سازمان (FAO) له خوا په ټوله نړۍ کې لمانځل کیږی. دغه لمانځنه یواځې څه تشریفات او له تفُنن ډکې خبرې ندي، بلکې دآنیده تصامیمو لپاره په علمی چلند بیلګې سره تګ دی، دا د ټول بشریت لپاره یوڅو مهم پیغامونه او بیا د نړۍ ټولو وګړو؛ په تیره بیا د بیوزلو هیوادو او بیوزله خلکو لپاره د تدابیرو او د دوی دستونزو کمښت ته هم فکرکول او په دی اړه پریکړی کول دي. له نیکه مرغه افغانستان (FAO) سره له کلونو کلونو ښې اړیکی لری او دغه ورځ تل په افغانستان کی لمانځل شوی ده او لمانځل کیږی.

سږکال ځکه دا ورځ موږ ته لازیاته مهمه ده چې د بیوزلی کرښه د نفوسو له نیمایی زیاته برخه احاطه کوي. د دی معنا داده چی غذایی مصئونیت یا د خوراک خوندیتوب، چې د څلورو (د *کافي والي، مغذي والي، اجتماعي والي او له رواني پلوه دډاډه والي*)ابعادولرونکی دی، افغانستان کی نه لیدل کیږی.

دا سازمان په حقیقت کې دملتونو د پخوانۍ له منځه تللی ټولنې چې اوسنی UN یې ځای ناستی شو، اړوند د(کرنې نړیوالې مؤسسې) ځایناستي ګڼل کیږي. نو راځئ لږ یی له تاریخی پلوه وګورو، بیا به یی اوسنی تشکل او اهداف مطالعه کړو:

د کرنې نړیواله مؤسسه دملتونود ټولنې (دملتونو ټولنه دلومړۍ نړیوالی جګړی له پای ته رسیدو وروسته په نړۍ کی د سولی دټینګښت او یو شمیر نړیوالو درنو مسئولیتونودمنلو په موخه جوړه شوې وه، خو خپل ماموریت کی ډیره بریالۍ نه وه، چی وروسته ددوهمی نړیوالی جګړی څخه یي د ملګرو ملتونو سازمان/م.م. یا UNپرځای جوړ شو) دفعالیت پرمهال، جوړه اودکار او روغتیا له نړیوالو سازمانونو سره یې داطلاعاتو په راکړه ورکړه کې نږدې همکاري لرله. دغې مؤسسې دونو- بوټو په ساتنه او وده کې هم اغیزمنې هڅې ترسره کړې وې، خو د خوراکي توکو او کرنې سازمان (Food and Agriculture Organization) له جوړیدا وروسته، له نوموړې مؤسسې څخه د اروپا دسیمه ییز دفتر په توګه کار واخیستل شو، چې بالاخره په ۱۹۴۸م. کال کې په رسمي توګه ړنګه او مسؤلیت یې ننۍ FAO ته وسپارل شو. د FAO د تأسیس طرحه په لومړي ځل د ۱۹۴۳م .کال د می په میاشت کې د امریکا دولسمشر (فرانکلن روزولت )له خوا دخوراکي توکو او کرنې په مناسبت په جوړ شوي نړیوال کنفرانس کې، چې د امریکا په ویرجینیا ایالت کې جوړ شوي و، وړاندې شوه. په دغه کنفرانس کې چې نږدې ۳۴ هیوادونو برخه لرله، په نړۍ کې د بیوزلۍ او دلوږې پر وړاندې دمبارزې په موخه دیوه نړیوال سازمان د جوړیدو پر اړتیا خبرې وشوې. دسازمان غړو د ۱۹۴۵م . کال په اکتوبر کې دکاناډا په کیوبک ښار کې خپله لومړۍ غونډه وکړه، چې په ترڅ کې یې د غړو هیوادونو له خوا دسازمان اساسنامه لاسلیک شوه. داساسنامې له لاسلیک وروسته دخوراکي توکو او کرنې نړیوال سازمان د یوه تخصصی سازمان په توګه په رسمي ډول په فعالیت پیل وکړ چی موخې یې دا دی:

۱.دخلکو د ژوند دسطحې لوړول،


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

۲. دکرنیزو توکیوتولید، اصلاح او دخوراکي او کرنیزو محصولاتو ویش،

۳. په کلیوالي سیمو کي دپرمختیایي پروژو پلي کول. یعنی په عمومی توګه له نړیوال اقتصادي پرمختګ سره مرسته او دعامه هوسایني پراختیا . ددغه سازمان جوړښت او ارکان دا دی:

د صلاحیت او تشکیل له مخی د خوراک د نړیوالی اداری لوړ ارګان کنفرانس دی، له دې سره یو ځای نور ارګانونه هم لری چي لړ به یی وپیژنو:

۱. کنفرانس د FAO ترټولو لوړ ارګان دي، چي په کال کي یو ځل غونډه کوي. اصلي او څارونکي غړي کولای شي کنفرانس ته خپل استازي ولیږي، خو یوازی اصلي غړي په کنفرانس کي درایي حق لري.که کنفرانس لازمه وګڼي کولای شي، دهغونړیوالو سازمانونو استازي؛ چي موخي او فعالیتونه یي دکنفرانس له فعالیتونو سره ورته والي ولري، په غونډو کي دګډون لپاره کنفرانس ته راوغواړي. یاد سازمانونه به یوازې دڅارونکي په توګه په کنفرانس کي ګډون کوي او دکنفرانس په پریکړو کي د رایي ورکوني حق نه لري.

۲. شورا: شورا دسازمان اجرائیوي ارګان دي، چي ۴۹ غړي لري دشورا غړي دکنفرانس له خوا ددریو کلونو لپاره ټاکل کیږي. شورا دکنفرانس له خوا د ورکړل شویو واکونو دپلي کولو مسؤلیت لري.

۳. منشي: دخوراکي توکو او کرني سازمان منشي د سکرټریټ مشرتوب په غاړه لري. منشي د کنفرانس له لوري دیوي دوري په موخه دشپږوکلونو لپاره ټاکل کیږي. دسازمان منشي دکنفرانس دتوافق په صورت کي کولای شي، سیمه ییز دفترونه پرانیزي. افغانستان دملګرو ملتونو یو ډیر پخوانی او لومړنیو اعضاوو څخه دی.

دملګرو ملتونو د سازمان اړوند، د (FAO) سازمان په افغانستان کي دفتر اود کورنیو او بهرنیو کارکوونکو او متخصصینو لرونکی دی، چي تیرو کلونو کي یي افغانستان کي ډیری کټوري پروژې اجرا او تطبیق کړي دي. اوس چي د غذایی توکو د کمښت ستونزه ټول بشریت پوشانته تهدیدوي، په کار ده چي موږ د خپلی کرنی وضعیت ته له سره کتنه وکړو. الله الحمد افغانستان د خپلی کرنی د پرمختیا، د پایداره انکشاف او شني ودی .Growth/G.G) (Green)ته ډیر مناسب شرایط لری. آن دا چي موږزیات شمیر داسي سرچینی او منابع لرو چي تر اوسه مو هیڅ لاس ندی وروړی، نو بیا خو ډیر اسانه کولای شو چي نه یوائي دقحط مخه ونیسو، بلکي نورو هیوادو ته هم خپل کرنیز محصولات صادر کړو او د نورو هیوادو بیوزلو ته خیرات هم ورکړو(هم خرماهم ثواب!)

دي برخه کي موږ دکرنی ورزمکه، اوبه او شپږ داوبولګولو حوزې، کافی د کار ځواک لرو، خو مسلکی او متخصص کارکوونکی او تکنالوژی کی شاید ستونزه ولرو، موږ په دي برخه کی د (FAO) مرستي ته اړ یاستو، تر څو هغه منابع چی هم له فزیکی، هم له اقتصادی واجتماعی اوکلتوری چوکاټونوله پلوه ډیری مناسبی دی، په کار واچوو. تر ټولو ښه خبر دادی، چي نور مو جګړو ته نه وویل او د یوه دودیال(مدنی اومهذب) ملت په شان مو خپل منځي شخړې، جګړه او انسان وژنه پرینبوده، ورسته تردي به انسانی کرامت پالو او د پاک پروردګار په نعمتونو به کفران نه، بلکي د هغو شُکران به کوو. دشُکر په ادا کولو کی به مو لومړی پام دحلال رزق ګټل او د هغو منابعو ښه کارول وی چي الله پاک موږ ته زموږ د فلاحت په خاطر خلق کړي دی.

پاکه پرروردګاره! افغانان نورله خپلو تیرو تیروتنو توبه کوي، معاف یي کړه او د فلاحت،آبادی او ستامخلوق ته دخدمت توانایي ورکړه.



برای مطالب دیگر پوهاند محمد بشیر دودیال روی عکس کلیک کنید



لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com